# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکې



# داؤد بادشاه

# (اولنی حصه)


لیکونکې: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکې: Ruth Klassen

ترجمه کونکې: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.




داؤد دې وخت کښې تښتېدلے وو، ځکه چې ساؤل بادشاه هغه قتل کول غوښتل. داؤد خپلو څلورو سوو سړو سره په صحره کښې په یو غار کښې وو. د ساؤل بادشاه سپاهیانو داؤد تقریباً معلوم کړے وو. خو داؤد د هغوئ نه مخکښې لاړو.





د ساؤل نوکر دوئیګ بادشاه ته ووئیل چې امامانود داؤد په
تښتېدو کښې مدد کړے دے. نو ساؤل د هغوئ د قتلولو حکم
کوی. او دوئیګ هم دا غوښتل، نو هغهٔ په هغه ورځ باندې
پینځهٔ اتیا اِمامان او د هغوئ کورنۍ یې
په بې رحمۍ سره په توره باندې ووژل.
دا ډېر بد وشول.

3



یوه ورځ ساؤل
بادشاه د داؤد په
تلاش کښې وو. او
هغه نېغ هغه غار ته
لاړلو په کوم غار
کښې چې داؤد او د
هغهٔ سړی پټ وو.
ساؤل یواځې وو.

4



په غار کښې داؤد ښهٔ په آسانئ سره ساؤل
مړ کولے شو. خو داؤد د هغهٔ د قتلولو په
ځائ باندې غلے هغهٔ خواته لاړو او په خپله
چاړه یې د ساؤل د چوغې نه لږه
ټوټه وشوکوله او ساؤل لاړو.

5



نو داؤد ورپسې لاړو او آواز
یې ورته وکړو او ورته
یې ووئیل چې د خپلې
چوغې ټکړه وګوره
چې زما په لاس
کښې ده.

ما تهٔ وژلے هم شوې. په کار دی چې تهٔ
دا ومنې چې ما ستا خلاف د بغاوت یا تا
ته د نقصان رسولو خیال هم نهٔ دے کړے.

6

ساؤل ووئیل چې افسوس چې ما د داؤد د قتلولو کوشش
وکړو. خو بیا زر هغه واپس غصه شی، او هغه د داؤد د
قتلولو د پاره د درېو زرو ځوانانو سړو لښکر تیار کړو.
یوه شپه، کله چې لښکر اودهٔ وو، داؤد او د ابیشے، چې د
داؤد سپاهی وو، د بادشاه خیمې ته ورننوتل چرته چې
ساؤل اودهٔ وو.



7



ابیشی داؤد ته ووئیل چې، خدائ
پاک تا له خپل دشمن نن په
لاس کښې درکړے دے. نو تهٔ
اوس ما له اجازت راکړه چې
هم د هغهٔ خپله نېزه ترې نه په
بل مخ بوټه وباسم او صرف په
یو غرب سره یې داسې کړم چې
د زمکې نه به پاڅېدلے هم نهٔ
شی، د دوېم ځل وهلو اجازت
به یې هم راته نهٔ پېښیږی.

8

داؤد هغه منې کړو، هغوئ د ساؤل
نېزه او د هغهٔ د اوبو منګے واخستلو او د
خیمې نه لاړل. بیا داؤد د غر نه چغې وهلې تر
دې پورې چې ترڅو پورې ساؤل بادشاه واورې.
نو ځل بیا ساؤل بادشاه ولیدل چې داؤد هغه قتلولے
شو. خو هغه داسې ونهٔ کړل. ساؤل یو ځل بیا
ووئیل چې زهٔ ډېر ملامته یم چې ما داؤد ته د
نقصان رسولو کوشش وکړو. خو داؤد د ساؤل
په خبره باندې یقین ونهٔ کړو.



9

نو په دغه وخت کښې سموئیل مړ شوے
وو، دا هغه نبی وو چا ته چې خدائ پاک
اول د ساؤل د مسح کولو د پاره وئیلی
وو، او بیا وروسته د داؤد د مسح کولو د
پاره وئیلی وو. د دې د پاره چې هغه د
بنی اسرائیلو بادشاه شی. کله چې فلستیانو
په بنی اسرائیلو باندې حمله وکړه، نو
ساؤل داسې کارونه وکړل چې خدائ
پاک د هغې نه منع فرمائیلې وه.



10

هغهٔ یوې ښځې له حکم وکړو، او ورته یې ووئیل چې د
سموئیل روح د مړو نه راوغوره، او په هغه شپه، ساؤل ته
یو پېغام ملاو شو.



11

چې مالک خدائ پرېښے یې او هغه ستا
دشمن شوے دے. مالک خدائ ستا نه
بادشاهی اخستې ده او ستا ګاونډی داؤد له
یې ورکړې ده. سبا به تهٔ او ستا زامن ما
سره شریک شئ او مالک خدائ به د بنی
اسرائیلو لښکر هم فلستیانو له په لاس کښې
ورکړی. کله چې ساؤل دا واورېدل نو هغه
وویرېدو او په زمکه
باندې راپرېوتو.



12

فلستیانو د بنی اسرائیلو خلاف جنګ
وکړو. او د بنی اسرائیلو سړی د
فلستیانو نه وتښتېدل. فلستیانو د
ساؤل زامن سره د
یونتن چې هغه د
داؤد ښهٔ ملګرے
وو وژل.



13

ساؤل د دشمن په غشو باندې
لګېدلے وو، او ډېر زیات
زخمی شوے وو. هغهٔ خپل
وسله وړونکی زلمی ته ووئیل،
خپله تُوره راوباسه او ما
ووژنه، چې دا ناسنته فلستیان ما
په تُوره ونهٔ وهی او په غذاب
مې نهٔ کړی. خو هغه زلمی
داسې ونهٔ کړل ځکه چې هغه د
داسې کولو نه ویرېدو. نو ساؤل
خپله تُوره واخستله او خپل ځان
یې پرې وروغورزولو.



14

د ساؤل او د هغۀ د لاشونو
موندلو نه پس، فلستيان راغلل
او د هغوئ لاشونه د بنی
اسرائيلو په ښار کښې په يو
دېوال پورې په ميخونو ټک
وهل. بيا څۀ تکړه کسانو د
هغوئ لاشو د دېوال نه راکوز
کړل. او وې سوزول، او
هډوکې ورله ښخ کړل.



15



کله چې داؤد د دې نه خبر
شو نو هغه ماتم وکړو او
وې ژړل، او بيا يې د ساؤل
او د هغۀ د زوئ يونتن او د
نورو بنی اسرائيلو د پاره
روژه ونيوله. کوم چې د
مالک خدائ د لښکر خلق
وو. ځکه چې دا خلق په
جنګ کښې مړۀ شوی وو.

16

تر دې چې ساؤل د داؤد د قتلولو کوشش
کړے وو، خو داؤد تر آخره پورې د
خدائ د مسح شوی په توګه د ساؤل
درناوے وکړو. خدائ پاک داؤد له
عزت ورکړو او هغه يې د ساؤل
په ځائ بادشاه
جوړ کړو.



17

داؤد بادشاه (اولنئ حصه)

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

١سموئيل ٢٤ - ٣١، ٢سموئيل ١ - ٢

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ."
زبور 130:119

18




20 60

19

دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډير غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغۀ خپل
يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کۀ تۀ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زۀ
ايمان لرم چې هم تۀ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا٣:١٢

20